# پښتو ژبه

رشید احمد

پښتـو د نړۍ پـه ژبـو کښې يـوه قدیمه ژبه ده او لـکـه د خپـلـو ويونکو يې مودام په دښمنۍ کښې ګټـه کړې ده. ځـکـه چې دا د بادشاهانو ژبه وه.خو هـغـوئ منله نۀ. ځکه يې په کور دننه او ورچېنې پـه نـورو ژبـو کښې خبرې کولې. سوات چې کله ریـاسـت وو نـو سـرکاري او غیر سرکاري ژبه ئې پښتـو وه. پـه سـکـولـونو کښې به يې پښتو ژبه ښـودله او هر څه به پښتو کښې لېکلے کېدل. ولې د بده مرغه په نورو سېمو کښې حکومتونو پښتو ژبې تـه پـه هېڅ شـان تـرقـي ورکول نه غوښتل. انګـریـز کـمشـنر سر. الف کیرو خو د هغه وخت د هند حکومت ته سفارش کړے وو چې دلته دفتري ژبـه یـا خـو انګریزي او یا اردوپکار ده. چې داسې پښتـانـه د یوبل په خط نه پوهېږي. او خپل تاریخ هیـر کړي. خېنو خو تردې کوششونه اوکړل چې د پښتو لیکدود یعنې رسم الخط دې یا خو اردو شي اویـا دې رومـن شـي. او هم ددغه خلقو دغه رویه د پښتـــو دتــرقـۍ سـوب شـوېده. چې پـوهـانـو او دانشورو،لېکوالو،شاعرانو ورته پام شو نو هغوئ ورسره هېڅ هم او نه منل او داسې يې د خپلې ژبې د ودې دپـاره خپـل تخلیقونه په خپله مورنۍ ژبه کښې وړاندې کړل. او پښتو ژوندۍ پاتې شوه.

هـوښيـاران وائـي چې کوم قام خپله ژبه پـرېښودله نو هغه دنړۍ د مخ نه ورک شي. او هم دا وجـه ده چې هـوښيـارو قـامـونـو او بـادشاهانو او حکومتونو تل د خپلې ژبې دودې دپاره کوششونه کړي دي. لـکـه ایران ته اوګورۍ چې د هغه ملک بـادشـاهـانـو به د خپلې ژبې څومره قدر کولو او د هـغې د ودې دپاره به يې ګامونه اخستل. او داسې دخپـل قـام او ژبې تـاریـخـونه به يې نوي خط ته راړول.او خپله تاریخي پنګه به يې درنوله.

پښتو ژبې تل وده کړې ده او دا ددې ژبې او ددې دويونکو کمال دے چې نه خو يې خپله ژبه پـرې ايښې ده او نه يې ورسره بې وفائي کړې ده. کـلـه چې په چین کښې انقلاب راغلو نو هغوئ په وړومبـي فرصت کښې خپلې ژبې ته توجه ورکړه لېک دود يې اسـان کړو،دهـغې لوستل يې لازمي کړل او ټـول تعلیم يې په خپله ژبه کښې کړو. او نړې تـــه يې دا پيـغـــام ورکړو چې کـه زمونږ سره اړيـکـي غـواړئ نـو زمونږ ژبـه زده کړئ. او هم داسې ئې دخپلې ژبې پنګه فراخه کړه. د نورو ژبو د ټـکو ګډون يې منع کړو. او دهرڅه دپاره يې نوي نـومـونـه او ټـکي وضع کړل. مونږ خو داسې اونه کړل او دبده مرغه په ژبه کښې مو ګډون زيات شو خـو دا هـم یو ښه خبره ده چې خپله ژبه مو ژوندې اوساتله.